د ۲۰۱۷ کال اپریل میاشتې ۶مه نېټه
د عامه اړیکو څانګه، د امریکا نړیوالې پراختیايي اداره
شمېره: ۰۷۰۲۶۳۶۳۴۰
برېښنالیک: KblAIDDoc@usaid.gov
ویبپاڼه:www.usaid.gov/afghanistan

مطبوعاتي اعلامیه

د روغتیا په ملي کنفرانس کې په افغانستان کې د میندو مړینې کچې باندې خبرې وشوې

کابل ، افغانستان –په داسې حال کې چې نوې څېړنې ښیې چې په هیواد کې د میندو مړینې کچه لوړه شوې ؛ د افغانستان د عامې روغتیا وزارت ، د امریکا نړیوالې پراختیايي اداړې(USAID) ، د نړیوالو روغتیايي بنسټونو او د حکومتي ادارو چارواکو تېره اوونۍ د میندو او ماشومانو روغتیا ملي کانفرانس کې سره وکتل ترڅو دغه ستونزه ته کتنه وکړي او د افغانو میندو او ماشومانو ژوند ژغورلو کې مرسته وکړي.

د دغه دوه ورځنې کانفرانس په لړ کې ګډونوالو د میندو مړینهاو د ماشومانو روغتیايي ستونزو مخکښو عواملو له منځه وړلو په موخه یوې داسې ستراتیژۍ جوړولو باندې کار وکړ چې د لنډ مهاله (۶ — ۱۲ میاشتو) او اوږد مهاله (۱ — ۵ کلونو) مهمو لمړیتوبونو لپاره د یو هوکړه شوې مهال‌ویش ترڅنګ د خصوصي او دولتي سکتور تطبیق تکلارو او په ولایتي او ټولنیزو کچو کې د پروګرام څارنې میکانیزمونه په کې ګډون لري او د میندو او ماشومانو مړینې لوېې ستونزې ته ځواب ویوونکي ده.

د افغانستان ۲۰۱۵ کال ډیموګرافي او روغتیا نوي خپره شوې سروې ښیې چې د میندو مړینې کچه په داسې حال کې لوړه شوې چې د اومیندوارۍ مخنیوي لپاره مهم شاخصونو او د زیږون مسلکي خدمتونو پراختیا په ټپه دریدلې ده. دغه سروې د جنیست پر بنسټ تاوتریخوالي لوړې کچې څرګندونه هم کوي. د ۲۰۱۵ کال اقدام لپاره بلنې (د کابل اعلامیې) په هیواد کې د میندو ، د نوي زیږیدلیو ، د ماشومانو او ځوانانو روغتیايي اړتیاوو پوره کولو په موخه د روغتیايي سیستمونو اغیزمنتیا لوړولولپاره شریکې غاړې سره تنظیم او د عملي کړنو لپاره يې پوهاوی لوړ کړ. په پایله کې ، سړ کال اړتیا ولیدل شوه چې د وروستیو شواهدو په رڼا کې د میندو او ماشومانو روغتیا ښه کیدلو برخه کې د پایدارو لاسته راوړنو تضمینولو لپاره باید یوه روښانه ملي تکلاره تسوید شي.

د امریکانړیوالې پراختیايي اداړې رئیس ښاغلي هربرټ سمیټ وویل «د افغانستان ډیموګرافي او روغتیا سروې خپراوي د هغه څه په اړه چې په افغانستان کې د میندو او د هغوی د ماشومانو د روغتیا په اړه روان دي ځلانده حقایق را سرېږه کړل.» هغه زیاته کړه «مور په افغانستان کې د میندو او ماشومانو ژوند حالت ښه کولو ته ژمن یو او د حکومت او نورو بنسټونو سره به کار وکړو ترڅو ډاډ ترلاسه کړو چې د دغه کانفرانس څخه زمور موخې په حقیقت بدلې شي.»

د افغانستان عامې روغتیا وزیر ښاغلي فیروزالدین فیروز په دې اړه وویل «د دغو بېړنیو اړتیاوو پوره کولو لپاره یوه ملي اجماع او داسې ولایتي مشخص پلانونه چې د ټولو شریکو غاړو له لوري په روښتیا او دوه اړخیزې حساب ورکونې پلي شي ډېر حیاتي ارزښت لري.»

###

د ۲۰۰۲ کال راهیسې په افغانستان کې پراختیايي پروګرامونو باندې د ۱۷ میلیاردو ډالرو څخه ډېرو پیسو لګولو سره ، د امریکا نړیواله پراختیايي اداره افغانستان ته د ټولو څخه لوی دوه اړخیزه ملکي مرستندویه پروګرام وړاندې کوي. د امریکا نړیواله پراختیايي اداره د افغانستان حکومت او ولس سره ملکترتیا کوي ترڅو د هیواد خصوصي سکتور په مشري اقتصادي ودهتضمین ،یو دیموکراتیک او ځواکمن دولت چې د قانون حاکمیت له لوري حکومت وکړي رامنځته ، او ټولو افغانانو ته لمړنۍ روغتیايي او پوهنیز خدمتونهچمتو کړي.

د آمریکا ولس، د آمریکا نړیوالې پراختیايي اداړې له لورید څه د پاسه ۵۰ کلونو راهیسې د نړۍ کودڅ کودڅته بشري او اقتصادي مرستېچمتو کړي دي.

د آمریکا نړیوالهپراختیايیاداره په فیسبوک کې | د آمریکا نړیوالهپراختیايیاداره په توېټر کې | د آمریکا نړیواله پراختیايي اداره په یوټیوب کې | د آمریکا نړیواله پراختیايي اداره په فلکر کې